



2 د اودس او تیمم او غسل کولو طریقه

د اودس طریقه


1 په زړه سره به د اودس کولو نیت وکړي، بیا به "بسم الله" وو ایي، بیا به خپل دواړه لاسونه ومینځي.

2 بیا به د خپل ښي لاس په لپه کې اوبه راواخلي، او مضمضه به وکړي یعني(په خوله کې به اوبه واچوي او خوله کې به یې تاو راتاو کړي)او بیا به له خولې نه اوبه وغورځوي بیا به استنشاق وکړي: یعني(په پوزه باندې به اوبه راکش کړي) بیا به استنثار وکړي: یعني(د چپ لاس په موټی او د تشهد په ګوته به پوزه سونړ کړي).





3 بیا به خپل مخ ووینځي "چې د ویښتانو د عادي راختلو ځای څخه د ږیرې او زنې تر پایه پورې په اوږدوالي سره او د دواړو غوږونو تر منځ عرضًا "





4 بیا به دواړه لاسونه د ګوتو سرونو څخه تر څنګلو پورې ومینځي, له خپل ښي لاس څخه به شروع وکړي بیا به خپل چپ لاس ومینځي.







5 بیا به په خپل ټول سر مسح وکړي, دواړه لاسونه به د سر له مخې برخې څخه د سر تر شا پورې تېر کړي، بیا به یې د خپل سر مخې ته راوګرځوي.




6 بیا به د غوږونو په سوروکې خپلو دواړو ګوتو سرونه دننه کړي او په موټې ګوتو به د غوږو بهرنۍ برخه مسح کړي.






7 بیا به خپل دواړه پښې د دواړو ښنګرو سره ومینځي.





8 **په مشروع مقدار باندې د زیاتو اوبو استعمالولو حکم؟**

په اودس کې له ټاکلي اندازې څخه زیاتې اوبه استعمالول جایز نه دی لکه له دریو ځلو څخه زیات د یو اندام مینځل، یا د څنګل نه پورته د مټ څه برخه مینځل، یا د ښنګرو نه پورته د لینګو څه برخه مینځل او یا دا چې غاړه مسح کړي.

9 **او له اودس نه د فارغېدو وروسته دې :**

"أَشهَدُ أَنَّ لا إِلَهَ إِلّا اللهُ وَحدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ ، وَأَشهَدُ أَنَّ مُحَمَّداً عَبدُهُ وَرَسُولُهُ , اللَّهُمَّ اجعَلنِي مِنَ التَّوَّابِينَ واجعَلنِي مِنَ المُتَطَهِّرِينَ" وو ایي.

10 **- د اودس ماتوونکي شیان :**

1- هغه څه چې د مخکې او وروسته عورت څخه خارج شي, لکه: واړه یا غټ بول, او یا باد .
2- د عقل زایله کیدل په خوب یا بې هوشۍ سره .
3- د اوښ غوښه خوړل.






د تیمم طریقه.


1 **تیمم :**

تیمم د اوبو د پاکوالي بدیل دی کله چې پاکوالي په غړوکې د اوبو استعمال نا شوني وي, او یا اوبه لرې وي یا د اوبو د استعمالولو څخه ضرروبره لري, دې وخت کې په خاوره تیمم کول د اوبو ځای نیسي.



2 په زړه سره به د تیمم نیت وکړي, او بسم الله به وو ایي, بیا به څمکه په دواړو لاسونو یو ځل ووهي, او د دواړو لاسونو په دننه برخه به خپل مخ او د دواړو لاسونو شا مسح کړي.

1


2


3


4



3 د ګوتو پراخول د څمکې د وهلو په وخت کې مشروع نه دي , او نه د ګوتو خلالول(ګوتې په یو بل کې ننباسل) شته په وخت د مسح کولو د لاسونو کې .

د واجب غسل طریقه

1 په زړه سره به د غسل نیت وکړي,او بسم الله به په پټه وو ایي, بیا به په ټول بدن باندې اوبه واړوي او د ټولو ویختانو (که ګڼ وی او که رنګه وي) بیخونو ته اوبه ورسوي او خولې او پوزې ته به اوبه واچوي.

2 **- د غسل واجبوونکي شیان :**

1- لومړی جنابت: او جنابت حاصلیږي په خارجیدلو د مني سره, که د کوروالي په وجه وي او که بله وجه, او که د سړي او ښځې عورت یو ځای کېدلو سره وي.
2- د حیض او د نفاس د وینې خارجېدل. 3- د شهادت پرته مرګ. 4- د کافر مسلمانېدل.

ترتیب کوونکی : دکتور هیثم سرحان, په مسجد نبوي کې مدرس, او په "معهد السنة" باندې نظارت کوونکی :
« mahadsunnah.com »

